د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې حقونه (قسط:دویم)

04 سپتمبر، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: **5** منټه **(2):** دُعا يادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، ټول وخت: **15** منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د رسولِ ذِيشان** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **درې حقونه (قسط: دويم)** پهٔ عنوان سره ګټه ور معلومات درکولے شي او **د فرض نمونځ نه پس کيدونکې دُعا** به يادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي-اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** تاسو پهٔ ما باندې درود لولئ بے شکه دا ستاسو د پاره پاک والے دے- [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې حقونه (قسط:دويم)

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ (پاره:5، سورۂ النساء:59) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د الله فرمانبرداري وکړئ او د رسول فرمانبرداري وکړئ---! |

[1]… مسند امام احمد، مسند ابي هريره، جلد:4، صفحه:409، حديث:9004-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په تاسو کښې یو کَس هم تر هٰغه وخته پورې (کامِل) مؤمِن کیدےنهٔ شي ، تر څو پورې چې زهٔ د هغه پهٔ نزد د هغهٔ د پلار، اولاد او د ټولو خلقو نه زیات محبوب نهٔ شم- (1)

## د رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ باندې ډیر حقونه دي، پهٔ کومو کښې چې مونږه درې حقونه مخکښې زده کړي دي، نن به درې نور زده کوو- راځئ چې ورومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: (1): پهٔ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړل (2): د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ادب او احترام کول او (3): د رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تابعداري کول-

راځئ نور درې حقونه زده کوو:

**ورومبے حق:** محبت کول

**وضاحت:** د زړهٔ مائل کیدو ته **محبت** وئیلے شي، دا مائل کیدل چې څومره ډیر وي، محبت به هٰغه همره ډیر وي- لهٰذا د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د محبت معنیٰ ده: چې زړهٔ پهٔ سختۍ سره د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طرف ته مائل وي- (2) دا محبت د دِین اهم فرض بلکې د ایمان بنیاد دے چې د دې نه بغیر ایمان هډو مکمل کیدے نهٔ شي- (3)

مُحَمَّد کی محبّت دِینِ حق کی شرطِ اَوّل ہے | اسی میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے

**د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت یو څو عملي تقاضې:** ❁ پهٔ سُنَّتو باندې عمل کول

---

1 …بخاری، کتاب الایمان، حب الرسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم من الایمان، صفحه:74، حدیث :15۔

2 …مدارج النبوۃ، باب نهم ذکر حقوق آنحضرت، فصل در لزوم محبت آنحضرت، جلد:1، صفحه:292 مفصلاً۔

3 …فتاوٰی رضویه، جلد:24، صفحه:453 مفصلاً۔

❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ فرامينو باندې عمل کول ❁ د هغوئي احکامو ته د نفس پهٔ خواهشاتو باندې فوقيت ورکول ❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر کثرت کول ❁ د هغوئي د ديدار ډير شوق لرل ❁ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير تعظيم کول ❁ ډير ادب کول ❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر پهٔ وخت سر د ادب نه ښکته کول وغيره د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت يو څو عملي تقاضې دي۔

**دويم حق:** دُرُودِ پاک لوستل

**وضاحت:** پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره:22، سورۂ الاحزاب:56)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** اے ايمان والؤ! پهٔ هغوئي باندې درود او ډير ډير سلام وليږئ۔

علمائے کرام فرمائي: د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ باندې دومره حقونه دي چې مونږ هغه نهٔ شو ادا کولے، رَبِّ کريم د درود شريف حکم ورکړو چې د دې پهٔ ذريعه به څه حقونه ادا شي۔ (1)

**ياد ساتئ---!!** ❁ پهٔ ژوند کښې کم از کم يو ځل درود شريف لوستل فرض دي۔ (2)
❁ پهٔ کوم مجلس کښې چې هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ پاک پخپله وکړې يا يې د چا نه واورې، هُغه وخت درود لوستل واجِب دي۔ (3)
❁ څوک چې د ذِکرِ پاک پهٔ کولو يا پهٔ اوريدو باندې درود شريف اونهٔ لولي، هغه به د واجبِو د پريښودو پهٔ وجه ګنهګار وي۔ (4) ❁ دا ضروري نهٔ دي چې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاک نوم پهٔ اخستو يا اوريدو درود لوستل واجب دي بلکې هر

---

1 ... القول البديع، صفحه:34، ملخصاً۔
2 ... درمختار کتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، صفحه:71۔
3 ... بهار شريعت، جلد:1، صفحه:533، حصه:3 ملخصاً۔
4 ... فتاوٰی رضويه، جلد:6، صفحه:222، ماخوذاً۔

هُغه لفظ کوم چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذات مبارک باندې دلالت کوي (مثلاً هغوئي، حُضُور، رسولِ هاشمي وغيره)، د دې سره درود شريف لوستل واجب دي- [1] ❁ پۀ مختلفو مجلسونو کښې (مثلاً پۀ يو ځائے کښې ناست وو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر وشو، بيا پاڅيدو او بل ځائے ته لاړو، بيا د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر وشو نو) هر ځل درود شريف لوستل واجب دي، چې نۀ يـې لولي نو ګنهګاريږي به- [2] ❁ البته که هم پۀ يو مجلس کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر بيا بيا کيږي نو پۀ دې باره کښې د علمائے کرامو اِختلاف دے، **بعضې علمائے کرام فرمائي**: پۀ يو ځائے کښې که پۀ زرګونو کرته هم ذِکرِ پاک وشي، هر ځل درود شريف لوستل واجب دي، که يو ځل يـې هم پريښودو نو ګنهګاريږي به، خو **نور علمائے کرام فرمائي**: که پۀ يو ځائے کښې بيا بيا ذِکرِ پاک وشي نو يو ځل درود شريف لوستل واجب دي او هر ځل لوستل مستحب دي- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مناسب هم دا دي چې هر ځل درود شريف ولوستلے شي، چې داسې خيز پۀ کوم کښې چې لوئي لوئي رحمتونه، برکتونه دي او پۀ نۀ کولو کښې بے شکه د لوئي فضل نه محرومي ده، نو د يو عقلمند کار دا نۀ دے چې دا پريږدي- [3]
❁ د خطبې پۀ وخت پۀ ذِکرِ پاک اوريدو صرف پۀ زړۀ کښې درود شريف لوستل پکار دي، پۀ خُله باندې وئيل جائز نۀ دي ولې چې هُغه وخت خاموشه اوسيدل کيدل فرض دي- [4]

**دريم حق**: د نسبت ادب او احترام کول

**وضاحت**: يعني هر هُغه څيز د کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نسبت دے، د هغې د زړۀ نه تعظيم کول، ادب او احترام کول هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حقونو کښې يو ډير اهم حق دے-

---

[1] ... فتاوی اہلسنت، ريفرينس نمبر 9649۔

[2] ... فتاویٰ رضويه، جلد:6، صفحه:222 بتغير قليل۔

[3] ... فتاوی رضويه، جلد:6، صفحه:222،223 ملخصاً۔

[4] ... فتاوی رضويه، جلد:8، صفحه:365 بتغير قليل۔

د نسبت د ادب مثالونه: مثلاً ❁ د صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان ❁ اهلِ بيتِ پاک رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ❁ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاکو بيبيانو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ❁ او د پاک اولاد رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ډير ادب کول، د هغوئي د بے ادبۍ يو لفظ هم په خُله نهٔ راوستل ❁ د مدينے منورې ❁ د مدينے منورې د خاورې ❁ تر دې پورې چې د مدينے منورې د ازغو هم ادب کول ❁ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د موئے [ويښتو] مبارکو ❁ نقشِ نعلين شريف او د هر هٰغه څيز د کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نسبت وي، که هٰغه نسبت ډير لرې ولې نهٔ وي، د هغې ادب او احترام کول لازمي او ضروري دي۔

## دوهرائي

نن مونږه د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې حقونه زده کړل ، پهٔ ذِهن کښې يـې کښينوئ: (1): محبت کول (2): درودِ پاک لوستل او (3): د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نسبت ادب او احترام کول۔

نوټ: د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حقونو پهٔ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د مکـتبة الـمدينه کتاب ❁ سيرتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د صفحه: 825 نه 850 پورې او ❁ سيرت رسول عربي، د صفحه: 628 نه 695 پورې ولولئ۔

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د فرض نـمونځ نه پس کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله تهٔ سلامتيا ورکولو والا يـې او هم ستا د طرف نه سلامتيا ده تهٔ د برکت والا يـې اے د جلال او بزرګۍ والا۔ [1]

---

[1] ... مدنی پنج سورہ، صفحہ:225۔

# د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

## د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُالْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـكرسي، تسبيح فاطمه، سُورَةالِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کورته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه

کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةِ اللیل مو ادا کړې؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړې؟ (36): آیا پۀ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئیلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پۀ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

✿ پۀ لیکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو

کښېږي د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلي تپوس يا غم خوري او د چا پهٔ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پهٔ هفته کښې مو پهٔ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟